پۀ 26 نومبر، کال 2026ء (بمطابق: 15 جمادي الأُخریٰ، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بيان

د تنهايیِ اهميت او آداب

(د خپلو تنهائی د درست کولو او پۀ تنهايیِ کښې د الله د ذِکر او د اخرت د فِکر کولو بيان)

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړی...

- ---- پۀ تنهايیِ کښې به وحشت ولې وي---؟
- ---- مونږ او زمونږه تنهايیِ---!!
- ---- د خورِ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 3 نصيحتونه
- ---- د تهجدو د فضيلتونو اصلي حِکمت

پيښکش
اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه: بياناتِ دعوتِ اسلامی)



FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786



GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت اِمام حَسَن مُجْتَبىٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: رسولِ ذِيشان، مكي مَدَني سُلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: صَلُّوا عَلَيَّ وَسَلِّمُوا، فَاِنَّ صَلَاتَكُمْ وَسَلَامَكُمْ يَبْلُغُنِي اَيْنَمَا كُنْتُمْ

ترجمه: په ما باندې دُرُود لولئ! او سلام رالېږئ! بې شكه تاسو چې هر چرته يـئ، ستاسو دُرُود او ستاسو سلام ما ته رارسېږي- [1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! خومره د خوش قِسمتي خبره ده چې محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم كوم چې د الله پاک محبوب دے، د دواړو جهانو سُلطان دے، د نبيانو نبي دے، اِمامُ الانبيا دے، د فرښتو هم نبي دے، مونږ كه چرې درودِ پاک لولو نو زمونږ د ګنهګارانو ذِكر داسې د ذيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دربار ته رسېږي-

ذاتِ والا پہ بار بار درود | بار بار اور بے شمار درود
بے عدد اور بے عدد تسليم | بے شمار اور بے شمار درود

[1] ... مسند ابي يعلىٰ، مسند الحسن بن علي بن ابي طالب، جلد:5، صفحه:167، حديث:6755۔

بیٹھتے اُٹھتے جاگتے سوتے | ہو الٰہی مرا شِعَار درود
شہرِ یارِ رُسُل کی نذر کروں | سب درودوں کی تاجدار درود[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د بيان اورېدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے۔[2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اورېدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ په اَدب به کښېنم ❁ ښه په توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

په تنهايۍ کښې به وحشت ولې وي---؟

يو بزرګ (يعنې د الله پاک نېک بنده) فرمائي:يو ځل د يو ځوان سره زما ملاقات وشو، هغه به د ابادۍ نه لرې، د خلقو نه ځانله په ځنګل کښې اوسېدو او هم هلته به يې عبادت کولو۔ زۀ د هغه ځوان سره مېلاؤ شوم، د سلام دُعا نه پس مې پوښتنه اوکړه: اے ځوانه---!! تۀ په داسې شارِ ځائے کښې يواځې اوسېږې؟ نۀ دلته څوک مددګار شته، نۀ ستا څوک ملګرے شته---؟ هغه ځوان سمدستې ووئيل: ولې نۀ---!! په خُدائے مې دې قَسم وي! زما مددګار هم شته او زما ملګرے هم شته۔ پوښتنه مې اوکړه: چرته دے؟ په نظر خو څوک هم نۀ راځي۔ ځوان ووئيل: (زما رفيق رب کريم دے) هغه د عِلم او د حِکمت،د هدايت او

---

[1] ... ذوقِ نعت، صفحه:123 و 124 ملتقطاً۔

[2] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 ۔

نِعمت پۀ ذريعه هر وخت زما سره دے.

فرمائي: ما بيا پوښتنه اوكړه: آيا تاسو دلته پۀ ځنګل كښې نۀ وېرېږئ- پۀ دې باندې هٰغه ځوان ډېر ښكلے جواب راكړو، وه يې وئيل: د چا محبوب او اَنِيس [يعنې دوست] چې الله پاک وي هغه څنګه وېرېدے شي---؟ ما پوښتنه اوكړه: خوراک د چرته نه راځي؟ جواب يې راكړو: كوم كريم مالِک چې ما له د مور پۀ خِېټه كښې هم رزق راكولو، آيا اوس به هغه ما ته رزق نۀ را عطا كوي؟ هٰغه بزرګ فرمائي: د ځوان د خُلې نه مې چې داسې ښې خبرې واورېدلې نو (زۀ پوهه شوم چې دے واقعي چې نېک اِنسان دے، ځكه) ما ووئيل: ما ته د ځان سره د اوسېدو اِجازت راكړئ! هٰغه ځوان ووئيل: زمونږ د دواړو يو ځائے اوسېدل به پۀ عبادت كښې خنډ [يعنې ركاوټ] پيدا كوي، ځكه زۀ دا خبره نۀ خوښووم-

د دې نه پس چې كله هٰغه ځوان روانېدو نو ما ورته ووئيل: ستاسو سره به بيا ملاقات كله كېږي؟ وه يې وئيل: پۀ دې دُنيا كښې خو به نۀ كېږي، البته! د قيامت پۀ ورځ كه مېلاؤېدل غواړې نو چرته چې به خوش قِسمته د الله پاک د ديدار خوندونه اخلي، هلته راشئ-

بزرګ فرمائي: (مخكښينې خبرې خو ذِهن اخستلې خو دا خبره ډېره عجيبه وه، اخر هغه پخپله څنګه فېصله كولے شوه چې هغه به د قيامت پۀ ورځ د الله پاک ديدار خامخا كوي؟ نو) ما پوښتنه اوكړه: تاسو ته څنګه معلومه شوه چې تاسو ته به د قيامت پۀ ورځ دا اِنعام خامخا مېلاؤېږي؟ ځوان ووئيل: د الله پاک پۀ عزت باندې مې دې قَسم وي---!! ما پۀ دُنيا كښې خپلې سترګې د حرامو نه بچ كړې، خپل نفس مې د خواهشاتو نه لرې وساتلو او پۀ تيارو كښې مې د هغه عبادت كړے دے، ځكه (زۀ د هغه پۀ رحمت باندې پوخ يقين لرم چې زما

کوشش به ضرور رنګ راوړي او) الله پاک به ما ته د خپل ديدار نه برخه را عطا کوي۔ (1)

محبّت میں اپنی گُما یاالٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی!
رہوں مَست وبے خُود میں تیری وِلا میں | پِلا جَام ایسا پِلا یاالٰہی!
میں بے کار باتوں سے بچ کے ہمیشہ | کروں تیری حمد و ثنا یاالٰہی!
عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یاخُدا یاالٰہی! (2)

د واقعې نه مبلاؤبدونکي سبقونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې ښکلي او اِيمان تازه کوونکي واقعې باندې غور اوکړئ! د زدکړې څومره خبرې په دې کښې موجودې دي:

په ځوانۍ کښې عبادت اوکړئ---!!

وړومبے خو دې خبرې ته وګورئ چې د دې بزرګ د چا سره ملاقات وشو ❁ هغه ډېر عبادت ګزار وو ❁ نېک وو ❁ سترګې د ګناهونو نه بچ کوونکے وو ❁ نفس د خواهشاتو نه منع کوونکے وو ❁ په تنهايۍ کښې اوسېدونکے او د الله پاک عبادت کوونکے وو خو د هغوئ عمر څومره وو---؟ سپين ږيرے وو؟ ملا يې راتپيته شوې وه؟ بوډا شوے وو؟ نا---!! هغوئ په ځنګل کښې، په تنهايۍ کښې په عبادت کښې اوسېدونکے **ځوان** وو، هُم په ځوانۍ کښې يې خپل ځان د عبادت د پاره وقف کړے وو ❁ نن سبا ځوانان په سوشل مېډيا (**Social Media**) خپل وخت بربادوونکي په نظر راځي ❁ د ګنده ويب سائټس وزټ کوي ❁ په ګنده مناظرو کتلو کتلو سترګې ګنده کوي ❁ د جينکو د سکولونو او کالجونو مخې ته ودرېږي، **مَعَاذَاللّٰه!** د معاشرې مټېندو، خوټېندو او لوڼو ته په ګنده

---

[1]...الروض الفائق فی المواعظ والرقائق، المجلس الحادی والثلاثون...الخ، صفحه:166 و 167 ملتقطاً۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحه:105 ملتقطاً۔

نظر ګوري- بل طرفته مَاشَآءَالله! هغه ځوان وو او هم په ځوانۍ کښې يې سترګې د ګناهونو نه بچ کړې وې-

❁ اوسني ځوانان په لوئي لوئي خوبونو ليدو نۀ سترې شي ❁ چا ته اوږدې موټرې اخستل دي ❁ چا ته محلونه او بنګلې جوړول دي ❁ د چا د ګران موبائل اخستو حِرص دے ❁ څوک د سبل سپاټې په نوم د ګناهونو نه ډکو ځايونو ته ځي ❁ ځينې نادانه په کوڅو او چوکونو کښې ناست وي وخت ضائع کوي ❁ په سړکونو باندې وَن وِيلنګ (One Wheeling) کوي، مَعَاذَالله! په وَن وِيلنګ کولو، سټنټ (Stunt) ښائي او راغورځېږي، ځان خوږوي او د ژوند نه لاس هم وينځي، غرض دا چې زمونږه ځوانان د نفس په خواهشاتو پسې لېونې کېږي- بل اړخ ته مَاشَآءَالله! هٰغه ځوان وو، کوم چې په تَنکۍ ځوانۍ کښې د نفس د خواهشاتو نه لرې وو او د الله پاک په عبادت او رياضت کښې مصروف وو-

د دې نه مونږ ته معلومه شوه چې په اصل کښې د اِمتحان وخت ځواني ده، هُم په ځوانۍ کښې مستي وي، هُم دا ځواني لېونتوب دے، دا ځواني سمبالول، دا ځواني د الله پاک د عبادت د پاره وقف کول دا ځواني د ګناهونو نه پاکول اصلي کاميابي ده-

د 99 صِدِّيقينو همره ثواب

رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

مَا مِنْ نَاشِئٍ يَنْشَأُ فِي الْعِبَادَةِ حَتّٰى يُدْرِكَهُ الْمَوْتُ

ترجمه: کوم ځوان چې خپله ځواني د الله پاک په عبادت کښې تېروي ،تر دې پورې چې (په عبادت کولو کولو) کښې هغه له مرګ راشي-

اِلَّا اَعْطَاهُ اللهُ اَجْرَ تِسْعَةٍ وَّتِسْعِيْنَ صِدِّيْقًا

ترجمه: الله پاک هغه ته د 99 صِدّيقينو ثواب عطا کوي۔ [1]

د الله پاک د ټولو نه خوښ بنده

مَا مِنْ شَيْءٍ اَحَبُّ اِلَى اللهِ مِنْ شَابٍّ تَائِبٍ

ترجمه: د توبه کوونکي ځوان نه زيات الله پاک ته هيڅ څيز محبوب نشته۔ [2]

نور فرمائي:

وَمَا مِنْ شَيْءٍ اَبْغَضُ اِلَى اللهِ تَعَالٰى مِنْ شَيْخٍ مُقِيْمٍ عَلٰى مَعَاصِيْهِ

ترجمه: او په ګناهونو باندې د قائِم پاتې اوسېدونکي بوډا نه زيات د الله پاک هيڅ څيز نا خوښه نشته۔ [3]

د دوزخ نه به لرې شي

د حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، د نبيانو سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِيْ سَبِيْلِ اللهِ تَبَاعَدَتْ مِنْهُ جَهَنَّمُ مَسِيْرَةَ خَمْسِمِائَةِ عَامٍ

ترجمه: د چا چې د الله پاک په لاره کښې (يعني د دِين په خِدمت کولو کولو) سپين ويښته راغلل، دوزخ به د هغه نه د 500 کالو په مزل لرې کړے شي۔ [4]

سُبْحٰنَ اللہ! خورو او محترمو اِسلامي وروڼو! څومره د فضيلت خبرې دي ❁ په ځوانۍ کښې توبه کوونکے د الله پاک خوښ بنده دے ❁ څوک چې ځواني په عبادت کښې تېره کړي، مثلاً؛ ❁ هم د ځوانۍ نه نـمونځ ګزاره جوړ شي ❁ هم په ځوانۍ کښې سُنَّت خپل کړي

---

[1] ...معجم اوسط، جلد:1، صفحه:228، حديث:780۔

[2] ...رساله قشيريه، باب التوبه، صفحه:126۔

[3] ...جامع صغير، صفحه:492، حديث:8050۔

[4] ...تاريخ ابن عساكر، رقم:4775، علي بن احمد بن عبد الله...الخ، جلد:41، صفحه:220۔

❁ هم په ځوانۍ کښې ږيره مبارکه پرېږدي ❁ هم په ځوانۍ کښې عمامه شريف په سر کړي ❁ هم په ځوانۍ کښې عِلمِ دِين زده کول شروع کړي ❁ هم په ځوانۍ کښې د نېکۍ دعوت ورکول شروع کړي ❁ هم د ځوانۍ نه د قافِلو مسافر جوړ شي ❁ د دَرس او د بيان عادت جوړ کړي ❁ په هفته وارو اِجتماعاتو کښې شرکت کوي غرض دا چې خپله ټوله ځواني په نېکو کولو کښې تېره کړي، د دې پورې چې خپل ټول عمر په نېکو کښې تېر کړي او د دُنيا نه لاړ شي، هغه ته به د 99 صِدِّيقينو همره ثواب عطا کولے شي ❁ ځواني د الله پاک په لار کښې تېروونکي ته به د قيامت په ورځ نُور عطا کېږي ❁ او هغه به د دوزخ نه لرې کولے شي۔

مُطِيع اپنا مجھ کو بنا يااِلٰہی! | سدا سُنّتوں پر چلا يااِلٰہی!
تُو اَنگريزی فيشن سے ہردم بچا کر | مجھے سنّتوں پر چلا يااِلٰہی!
دے شوقِ تلاوت دے ذَوقِ عبادت | رہوں بَاوُضو ميں سدا يااِلٰہی!
ہو اَخلاق اچّھا ہو کردار سُتھرا | مجھے مُتّقی تُو بنا يااِلٰہی!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

مونږ او زمونږه تنهايۍ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې واقعه کښې يوه ډېره ښکلې خبره د کومې طرف ته چې زۀ خصوصي پام راکړځول غواړم، هغه دا ده چې د هغه نېک ځوان نه چې کله بزرګ پوښتنه اوکړه چې آيا تاسو په دې خوشي ځنګل کښې يواځې نۀ وېرېږئ، وېره نۀ محسوسوئ نو هغه ځوان څومره ښکلے جواب ورکړو، وه يې وئيل: الله پاک چې د چا محبوب او اَنِيس وي، يعنې د چا چې د الله پاک د نزديکت او د قُرب سره محبت وي، هغه په تنهايۍ کښې څنګه وېرېږے شي---؟

سُبْحٰنَ اللّٰہ! څومره ښکلې او نا اشنا خبره ده، الله پاک چې د چا سره وي، څوک چې الله پاک

د ځان سره نزدې محسوسوي، هغه ته وېره، تنهائي څنګه محسوسېدے شي--!! افسوس چې نن زمونږه حالات بالکل اُلټا شوي دي، دلته خلق 10 منټه يواځې نۀ شي تېرولے ❁ مونږ ته د بور کېدو ختمولو د پاره د دوستانو ضرورت وي ❁ پۀ اسپتال، سټېشن يا پۀ بل ځائے کښې که څۀ وخت اِنتظار کول وي نو پۀ زړۀ بوج جوړېږي ❁ که چرته څۀ لږ وخت خالي مېلاؤ شي، يو منټ نۀ تېرېږي، دا زۀ مبالغه نۀ کووم، پۀ حقيقت کښې داسې دي، يو منټ يواځې کېناستل مونږ د پاره ګران وي، سمدستي موبائل پۀ لاس کښې وي او مونږ **پۀ تنهايۍ کښې هم د ټولې دُنيا سره پۀ رابطه کښې شو** ❁ موبائل خو ووايئ چې يو داسې د لوبو څيز کوم چې لاسونو ته راغلے دے چې دې زمونږ نه د لوبو ګوډاګي جوړ کړي دي ❁ که پۀ بس کښې يو نو موبائل پۀ لاس کښې ❁ پۀ رکشه کښې يو نو موبائل پۀ لاس کښې ❁ چرته پۀ قطار کښې ولاړ يو نو موبائل پۀ لاس کښې دے ❁ پۀ هوټل ❁ د بسونو اډه ❁ کور ❁ دفتر ❁ دکان، ودانۍ غرض چې چرته هم يو نو موبائل پۀ لاس کښې دے، ډېټا آن ده، واټس اېپ، سوشل مېډيا او پته نۀ لګي چې څۀ څۀ چلېږي ❁ باقاعده بندېز لګولے شوے دے چې د ګاډي چلولو پۀ وخت موبائل نۀ شې اِستعمالولے، د دې باوجود څومره نادانه دي کوم چې د ګاډي چلولو پۀ وخت هم موبائل اِستعمالوي ❁ د شپې د اودۀ کېدو نه مخکښې د موبائل کتو نه ډاکټران هم منع کوي خو مجال دے چې مونږ د دې نه لرې شو، پۀ کټ کښې ملاست يو، بالکل يواځې يو، پۀ موبائل کښې څۀ ګورو-

غرض دا چې مونږ ته د خپلې تنهايۍ د رنګينې جوړولو د پاره، د بور کېدو نه د بچ کېدو د پاره يا خو د دوستانو ضرورت دے، يا د موبائل ضرورت دے او خالي موبائل هم نۀ، ورسره د انټرنيټ پېکج هم ضرور پکار دے- که چرته ناڅاپي (***Accidently***) پېکج ختم شي نو 10 منټه تېرول راته ګران شي-

کاش چې زمونږ ذِهن جوړ شي، کاش چې د الله پاک پۀ حُضُور کښې هم څۀ وخت تېرول

نصيب شي-

عبادت کوم چې پرېښودے شوے وو

افسوس چې مونږ د الله پاک په حُضُور کښې وخت نۀ تېروو، حضرت اِمام اِبنِ سِيرِين رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: اَلْعُزْلَةُ عِبَادَةٌ يعني (د الله پاک د يادولو) د پاره په تنهايۍ کښې کېناستل هم عبادت دے- (1)

نن دې مونږ لږ په خپل ځان باندې غور اوکړو چې دا عبادت په مونږ کښې څوک کوي---؟ په زړۀ زړۀ کښې د خپلو 24 ګېنټو جائزه واخلئ! ❁ مونږ ګټل هم کوو ❁ مونږ خوراک هم کوو ❁ مونږ دوستانو له وخت هم ورکوو ❁ بال بچ له هم وخت ورکوو ❁ ورزش کوونکي هم کوي ❁ کوونکي خپل سوشل ورکنګ (**Social Working**) هم کوي خو سوچ اوکړئ چې آيا چرته داسې هم کېږي چې شپه وي، تنهائي وي، د کمرې چرته يو ګوټ وي، صرف او صرف مونږ يو او زمونږه رَبِّ کريم وي، په مينځ کښې درېم هيڅ څوک نۀ وي، نۀ بال بچ، نۀ کاروبار، نۀ دوستان، نۀ موبائل، نۀ څۀ بل څۀ---!! بس مونږ بالکل په تنهايۍ کښې ناست يو او صرف او صرف خپل الله پاک يادوو---!! هغه وئيلے کېږي کنه؛

دِل میں ہو یاد تِری گوشۂ تنہائی ہو
پھر تو خَلوَت میں عجب اَنْجُمَن آرائی ہو(2)

غور اوکړئ چې داسې ساعتونه به زمونږ په ژوند کښې کله راځي؟ آيا په 24 ګېنټو کښې صرف 5 منټه هم مونږ داسې تېروو---؟ کېدے شي چې زمونږه ډېر خلق به دا کار نۀ کوي- حالانکې دا هم ډېر اهم کار دے-

---

[1]...موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب العزلۃ والانفراد، جلد:6، صفحہ:503، رقم:14۔

[2]...ذوقِ نعت، صفحہ:204۔

اے محبوبه! تنهائي اختيار کړئ!

سُورۂ مُزَمِّل ولولئ! الله پاک خپل رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته فرمائي:

اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيْلًا ۝ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ۝
(پاره:29، سورۂ مُزَّمِّل:7 و 8)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بې شکه د ورځې خو ستا ډېر کارونه دي- او د خپل رَبّ نوم یاد کړه او د ټولو نه جُدا شوے هُم د هغه جوړ شوے اوسه-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۂ دې آیتونو باندې لږ غور اوکړئ؛ زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د چا پۂ ژوند مبارک کښې چې د یو سیکنډ کرورمه حصه هم د الله پاک د یاد نه چرې هم خالي نۂ وه، د چا هر یو سیکنډ چې د الله پاک د رضا والا کارونو کښې تېرېدلو، هُغه خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته وفرمائیلے شو:

اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيْلًا ۝
(پاره:29، سورۂ مُزَّمِّل:7)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بې شکه د ورځې خو ستا ډېر کارونه دي-

یعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! پۂ ورځ کښې خو نور ډېر کارونه دي ❁ د نېکۍ دعوت هم ورکول دي ❁ د صحابه کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان تربیت هم کول دي ❁ قرآن هم ښودل دي ❁ حِکمت هم ښودل دي ❁ د خلقو زړونه هم پاکول دي ❁ دُنیا ته د قیامته پورې لائحه عمل هم ورکول دي ❁ د جهالت رسمونه هم ختمول دي ❁ د دِین د غالِب کولو د پاره کوششونه هم کول دي ❁ اے خوږه محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! کله به طائِف ته تلل وي ❁ کله به بدر خپل ځائے جوړول وي ❁ کله به اُحُد شریف ته تلل وي ❁ محتاجه، غریبان، بے وسه به هم دربار ته حاضریږي ❁ پرېشانه به خپلې پرېشانۍ هم راوړي، د ټولو پرېشانۍ به هم ختمول وي- غرض دا چې دا ټول مصروفیات کوم چې یقیناً

خالص دِيني مصروفيات دي، هم د الله پاک د رضا والا مصروفيات دي خو بيا هم اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د شپې يو وخت خالص د تنهايۍ مقرر کړئ!

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ۝ (پارہ:29، سورۂ مُزَّمِّل:8)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او د خپل رَبّ نوم ياد کړه او د ټولو نه جُدا شوے هُم د هغه جوړ شوے اوسه-

د الله پاک ذِکر کوئ! او د ټولو نه جُدا شئ او صرف او صرف هم د الله پاک اوسئ!

پۂ اوسني وخت کښې د تنهايۍ د اختيارولو طريقه

سُبْحٰنَ الله! دا زمونږ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته وفرمائيلے شو، چې مونږ هم د دې نه سبق حاصل کړو-

هسې دا د اولیائے کرامو، د الله پاک د نېکانو بندګانو طريقه پاتې شوې ده چې پۂ شروع کښې به هغوئ مکمله تنهائي اختياروله، پۂ غارونو کښې به اوسېدل، ښه د زړۂ د اِخلاصه به يې د الله پاک عبادت کولو، کله چې به پوره پۂ عبادت کولو عادت شو نو بيا به ابادۍ ته راتلل- ځئ---!! زمونږ نه دا نشي کېدے، مونږ کور کلے نشو پرېښودے، کاروبار هم دے، کار روزګار هم دے، ګټل هم دي، خوړل هم دي، د ښځې بچو سره محبت هم کول دي، د مور او پلار حقونه هم دي، هر څۂ دي، کم از کم چې مونږ دومره خو اوکړو، څومره چې قرآنِ کريم مونږ ته ښودلي دي، فرمائي:

اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيْلًا ۝ (پارہ:29، سورۂ مُزَّمِّل:7)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بې شکه د ورځې خو ستا دِير کارونه دي-

پۂ ورځ کښې زمونږ مصروفيات وي- کم از کم د شپې لږه شان حصه، 2 ګېنټې، يوه ګېنټه، نيمه ګېنټه، 15 منټه، ځئ! صرف 10 منټه پۂ تنهايۍ کښې کښېنئ، خالص پۂ تنهايۍ کښې کښېنئ او صرف او صرف د خپل رَبِّ کريم پۂ ياد کښې ورک شئ د هغۂ عبادت

کوئ-

د تنهايۍ د عبادت ثواب

د روايتونو خلاصه ده چې الله پۀ تنهايۍ کښې او عبادت کوونکے خوښوي،[1] او پۀ تنهايۍ کښې عبادت کوونکے به صبا د قيامت پۀ ورځ د الله پاک د عرش پۀ سورې کښې وي.[2]

يو کس حضرت سفيان ثوري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پۀ خوب کښې وليدو نو تپوس يې ترې وکړو: چې الله پاک ستا سره څۀ معامله وکړه؟ هغوي څۀ اشعار ووئيل چې خلاصه يې دا ده چې: الله پاک ماته وفرمائيل: اے سفيانه تا به زما د رضا او ديدار دپاره د شپې پۀ تنهايۍ کښې عبادت کولو نن چې تۀ کوم جنتي محل غواړې واخله او زما ديدار هم کوه.[3]

اے کاش! شبِ تنہائی میں، فرقت کا اَلم تڑپاتا رہے
لمحہ لمحہ اُلفت کی آگ کو اور بھی تُو بھڑکاتا رہے
میں عشق میں یوں گم ہو جاؤں، ہر گز نہ پتا اپنا پاؤں
جب جب میں تڑپ کر گر جاؤں، تِرا دستِ عنایت اُٹھاتا رہے[4]

د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بنکلے بنده

زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

اِنَّ اَعْجَبَ النَّاسِ اِلَيَّ

ترجمه: بې شکه پۀ خلقو کښې هغه بنده کوم چې زما ډېر خوښ دے-

---

[1]... حلية الاولياء، جلد:1، صفحه:451، رقم:1278۔
[2]... مسلم، كتاب الزكاة، باب فضل اخفاء الصدقة، صفحه:370، حديث:1031۔
[3]... احياء العلوم، كتاب ذكر الموت و ما بعده، بيان منامات المشايخ، جلد:4، صفحه:616۔
[4]... وسائلِ بخشش، صفحه:474 ملتقطاً۔

اَللّٰهُ اَكْبَر! په الفاظو باندې غور اوکړئ! زما او ستاسو آقا، مَحبُوبِ خُدا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي، هٰغه بنده کوم چې زما ډېر خوښ دے، ډېر ښه راباندې لکّي- هغه څوک دے؟ فرمائي:

رَجُلٌ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَرَسُولِهٖ، وَيُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَيُعَبِّرُ مَالَهٗ، وَيَحْفَظُ دِينَهٗ، وَيَعْتَزِلُ النَّاسَ

ترجمه: هٰغه بنده دے کوم چې په اللّٰه او په رسول باندې اِيمان راوړي، نـمونځ قائم ساتي، زکوٰة ورکوي، ځان په مالي لحاظ سره مضبوط ساتي، د خپل دِين حفاظت کوي او خلق پرېږدي او تنهائي اختيار کړي-[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! هٰغه بنده کوم چې عبادت کوي، د خپلې دُنيا هم حفاظت کوي، د دِين هم حفاظت کوي او تنهائي خپلوي، هٰغه خوش قِسمته د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر خوښ دے، ډېر ښه پرې لکّي-

اللہ کا محبوب بنے، جو تمہیں چاہے
اُس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تم جسے چاہو(2)

د خورِ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې نصيحتونه

په حديثِ پاک کښې دي: حضرت عُقبَه بن عامِر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! نجات څهٔ دے؟ وه يې فرمائيل:

اَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ، وَابْكِ عَلٰى خَطِيئَتِكَ

ترجمه: (1): خپله ژبه په قابو کښې ساته! **(2):** ستا کور دې ستا د پاره کافي شي **(3):** په

---

[1]...موسوعه ابن ابی الدنیا، کتاب العزلة والانفراد، جلد:6، صفحه:501، حدیث:5۔

[2]...ذوقِ نعت، صفحه:206۔

خپلو خطاګانو باندې ژاړه...!! [1]خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا درې ښکلي ښکلي نصيحتونه دي، درې واړه د اختيارولو لائق دي- (1): خپله ژبه په قابو کښې ساتئ! ځکه چې ډېر ګناهونه هم د ژبې په ذريعه کېږي، ځکه که په کور کښې يـئ او که بهر په هر ځائے کښې د ژبې حفاظت کوئ! د ګناهونو نه به بچ يـئ-

(2): ډېر وخت په کور کښې تېروئ! يعنې بغېر د ضرورت نه د کور نه مۀ ووځئ! د خلقو خوا له بغېر د څۀ وجې نه مۀ ځئ! د خپل کور تنهائي غنيمت ګڼئ! ولې چې په دې کښې د سوونو افتونو نه امان دے (3): په خپلو ګناهونو باندې ژړېږئ!

افضل څوک...؟

يو ځل په دربار رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې عرض اوکړے شو:

اَیُّ النَّاسِ اَفْضَلُ

ترجمه: د ټولو نه افضل انسان څوک دے؟

وه يـې فرمائيل: هٰغه مؤمِن کوم چې د الله پاک په لار کښې د سر او مال بازي لګوي-

عرض اوکړے شو: بيا څوک---؟ وه يـې فرمائيل:

مُؤْمِنٌ فِیْ شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ، يَعْبُدُ اللهَ رَبَّهٗ وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهٖ ترجمه: هٰغه ايمان والا افضل دے کوم چې په يو غار کښې اوسېږي او د الله پاک عبادت کوي او خلق د خپل شر نه بچ ساتي-[2]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې څوک د الله پاک د ياد د پاره تنهائي خپلوي، هغه ډېر د فضيلت والا بنده ده-

---

[1]...ترمذی، کتاب الزہد، باب ما جاء فی حفظ اللسان، صفحه:572، حدیث:2406۔

[2]...مسلم، کتاب الامارۃ، باب فضل الجهاد والرباط، صفحه:754، حدیث:1888۔

2 قابل غور خبرې

دلته دوه خبرې د غور قابلې دي: (1): خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبادت د پاره يو ګوټ ته د کېدو حکم اوکړو: د دې مطلب دا دے چې مونږ د نېکۍ د دعوت وغېره ښه کارونو د پاره د خلقو سره تګ راتګ کوو، څنګه چې د دې کارونو نه وزګار شو نو سمدستي کور ته واپس راشو او په نېکو کښې اخته شو، د خلقو سره چې ډېر وخت يو نو په قِسما قِسم فتنو کښې به اخته کېږو (2): د تنهايۍ او يو ګوټ ته د کېدلو مقصد دا نۀ دے چې **مونږ د خلقو نه ډډه اوکړو** بلکې فرمائي: **خلق د خپل شر نه بچ کوونکے افضل دے-** دا د ګوشه نشينۍ د نيت بيان دے- مونږ د خلقو نه بېل اوسيږو او عبادت کوو نو په دې کښې په تکبر کښې اخته کېدل نۀ دي پکار، نور کم ګټل نۀ دي پکار، دا سوچ جوړول نۀ دي پکار چې خلق خراب دي او زۀ ښه يم- بلکې دا سوچ جوړول دي چې خلق ټول ښه دي، زۀ خراب يم، زما ګند چا ته وه نۀ رسېږي، ځکه زۀ د خلقو نه لرې کېږم-

د خپل نفس ساتونکے

علامه قُشَيري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي چې: يو ګس به په تنهايۍ کښې اوسېدو- چا ترېنه پوښتنه اوکړه: تاسو راهِب (يعني د خلقو نه ځانله اوسېدونکے) يـئ؟ وه يـې وئيل: نا- زۀ خو د سپي ساتونکے يم- زما نفس سپے دے، کوم چې خلق چيچي، زۀ دے د خلقو نه لرې ساتم د پاره د دې چې چا ته تکليف وه نۀ رسوي- (1)

دا صحيح انداز دے- تنهائي اختيار کړئ، ضرور يـې اختيار کړئ خو دې د پاره نۀ چې تاسو د خلقو د شر نه بچ شئ، بلکې په دې نيت سره چې خلق ستاسو د شر نه بچ شي-

---

[1]...رسالة قشيريه، باب الخلوة والعزلة، صفحه:138۔

میں سب سے بُرا ہوں، نگاہِ کرم ہو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د تهجدو د فضيلتونو اصلي حِکمت

د اِمام حَسَن بصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه يو ځل چا پوښتنه اوکړه چې: د تهجدو کوونکو مخونه د نورو خلقو په نسبت ډېر روښانه وي، په دې کښې څه حِکمت دے؟ وه يې فرمائيل: تهجد کوونکي د الله پاک د پاره تنهائي اختياروي ، ځکه الله پاک هغوئ ته نُوراني لباس وراغوندي۔ (1)

سُبْحٰنَ اللهِ! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ چې څومره د فضيلت والا دے هٰغه ګس کوم چې د شپې، کله چې ټول خلق اودۀ وي، د خوب نه خوندونه اخلي، دے په هٰغه تنهايۍ کښې، د شپې په تياره کښې د خپل کور په يو کُوټ کښې ولاړ وي او د خپل رَبّ په ياد کښې مصروفه وي۔ الله پاک داسې خوش قِسمته ته نُوراني لباس وراغوندي۔

په دې وخت کښې د تنهايۍ اختيارولو درست طريقه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زمونږ په شان د عامو خلقو په حق کښې دا ډېره ګرانه ده چې مونږ کور کلے، لَبن دَبن هر څه پرېږدو او ځنګلونو ته لاړ شو او کښېنو، دا خوښ عمل هم نۀ دے۔ البته! ❁ د مخلوق د محبت په وجه د دِين نه لرې نۀ شو۔ بعضې وخت د دوستانو، ملګرو، د خراب صحبت، د خلقو سره د تعلق ساتلو په وجه په عبادتونو کښې غفلت کېږي، د دې غفلت نه بچ کېدل ضروري دي ❁ په دوهم نمبر باندې دا خپل کړئ چې صرف او صرف د ضرورت د حده پورې تعلق ساتئ، د دې نه علاوه ډېر وخت په تنهايۍ کښې، په خپل کور کښې تېروئ۔ کم از کم دا خو لازمي اوکړئ چې څۀ نا څۀ وخت په

---

[1]...المجالسة و جواہر العلم، جلد:1، جز:1، صفحہ:75، رقم:133۔

تنهايۍ کښې د الله پاک د ياد د پاره ضرور خاص کړئ۔

د تنهايۍ اختيارولو فائدې

اِمام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: په تنهايۍ اختيارولو کښې: ❁ د عبادت کولو ❁ په عبادت باندې د همېشې والي اِختيارولو ❁ د الله پاک په نِعمتونو باندې د غور او فِکر کولو ❁ د ذوق او شوق سره د لوستلو جذبه پيدا کېږي ❁ د خلقو سره د تعلق ساتلو په حالت کښې چې کومې بدۍ کېږي، د هغې نه هم نجات نصيب کېږي، مثلاً؛ رِيا، غيبت، د نېکۍ حُکم نه کول، د ګناه نه نه منع کول او د خرابو دوستانو په صحبت کښې د کېناستو په وجه د خرابو اخلاقو په طبيعت کښې دېره کېدل دا هر څه د خلقو سره د تعلق ساتلو افتونه دي، د تنهايۍ اختيارولو په برکت سره د دې افتونو نه نجات هم مېلاؤېږي۔

د تنهايۍ اختيارولو د آدابو بيان

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د تنهايۍ اختيارولو 2 ارکان دي، يعني د تنهايۍ اختيارولو د پاره مونږ له 2 کارونه کول دي: (1): **کائِن**: په ظاهره د خلقو سره اوسېدل (2): **بائِن**: باطِن د الله پاک په ياد کښې مصروفه ساتل۔[1]

د خلقو سره د اوسېدو آداب

په ظاهره د خلقو سره د اوسېدو د پاره ❁ عِلمِ دِين زده کړئ! نورو ته يې هم ښايئ! داسې به مونږ د خلقو سره خو اوسېږو خو زمونږ د خلقو سره دا اوسېدل به د نېکۍ د پاره وي، د عِلمِ دِين زده کولو ښودلو د پاره به وي ❁ د چا نه د څۀ لالچ طمع مۀ لرئ! ❁ نورو ته فائده رسوئ! مثلاً؛ ❁ د نېکۍ دعوت ورکوئ! ❁ د ګناهونو نه يې منع کوئ! ❁ په خلقو خوراک کوئ! ❁ اوبه پرې څښئ! ❁ د هغوئ دِيني او دُنيائي مشکلات حل کوئ! ❁ که صلاحيت لرئ

---

[1] ...الرسالة القشيريه، باب الخلوة و العزلة، صفحه: 138 ملخصاً۔

نو د خلقو جګړې ختموئ! صلح ورله کوئ! ❁ قرباني ورکوئ! ❁ د غريبانو مرسته کوئ! ❁ عِلمِ دِين زده کوئ! **د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:** خلق د الله پاک عِيَال (يعني د هغه بندګان، د هغه محتاجه) دي، د الله پاک ډېر خوښ هغه دے څوک چې د الله پاک عِيَال ته ډېره فائده رسوونکے وي۔ [1]

❁ د خلقو سره د مينې محبت والا سلوک کوئ! چا ته درد او تکليف مۀ رسوئ! ❁ څومره حقونه چې پۀ تاسو باندې لازِم دي، هغه ضرور پوره کوئ! د مور او پلار، خوئېندو او وروڼو، اولاد، کشر ترۀ، مشر ترۀ، د مور د طرفه د ترور، د پلار د طرف نه د ترور، د دوستانو خپلوانو، د عامو مسلمانانو د ټولو حقونه پۀ مونږ باندې لازِم دي، د دې ټولو حقونه پوره کول ضروري دي۔ د ګوشه نشينۍ (يعني تنهائي اختيارولو) پۀ وجه چې پۀ دوئي کښې د چا حق کښې هيڅ بې خيالي وه نۀ شي، د دې خيال ساتل ضروري دي۔ که د ښه نيتونو سره حقونه ادا کوو نو دا هم عبادت دے۔

پۀ زړۀ کښې د خلقو نه د جدا اوسېدو آداب

زړۀ د الله پاک پۀ ياد باندي د ابادولو د پاره، د خلقو سره د تګ راتګ کمولو يا څۀ نا څۀ وخت پۀ تنهايۍ کښې د تېرولو د پاره ❁ نيت ښه ساتئ! مثلاً؛ دا نيت اوکړئ چې د الله پاک د عبادت کولو او خلق د خپل شر نه د بچ کولو د پاره تنهائي اِختياروووم ❁ زړۀ د وسوسو نه پاک ساتئ! کله چې مونږ تنهائي خوښوونکي شو نو شېطان پۀ مونږ باندې ګزارونه شروع کړي۔ ځکه پۀ تنهايۍ کښې زړۀ د وسوسو نه بچ کول ډېر ضروري دي، پۀ چا بد ګماني مۀ کوئ! ځان ښه مۀ ګڼئ! د خلقو پۀ حالت ليدلو دا مۀ وايئ چې دا څومره خراب خلق دي۔

---

[1] ... موسُوعه ابنِ ابي دُنيا، کتاب: قضاء الحوائج، جلد:4، صفحه:159، حديث:24۔

ښه به وه چې تهٔ اودهٔ وے

شېخ سعدي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل پهٔ ماشومتوب کښې بابا جان او ما ټوله شپه عبادت کولو، ځينې خلق اودهٔ وو، اواودهٔ پاتې شول- بيا چې د تهجدو وخت شو نو مونږ تهجد اوکړل،پهٔ دغه وخت کښې ما ووئيل: څومره بد بندګان دي، د تهجدو د پاره هم پا نهٔ ځېدل، پهٔ غفلت کښې اودهٔ دي- بابا جان وفرمائيل: ځويه! د دې نه ښه وه چې تهٔ هم اودهٔ وے۔ [1]

د تنهايۍ اِختيارولو نور آداب

❁ څومره حکمونه چې ستاسو طرف ته متوجه دي، پهٔ هغه ټولو باندې عمل کوئ! مثلاً؛ ❁ جَمعه واجِب ده، [2] هر نـمونځ پهٔ جومات کښې د جَمعې سره ادا کوئ! ❁ د جُمعې او د اختر د نـمونځونو د پاره جومات ته ځئ! ❁ که حج فرض وي نو خامخا به کول وي ❁ داسې چې نکاح واجِب شي نو خامخا به کول وي ❁ داسې نور حکمونه کوم چې پهٔ مونږ باندې لازم کېږي، هغه به خامخا کول وي ❁ دغه شان د نېکۍ دعوت ورکوئ! د ګناهونو نه منع کول کوئ! ❁ پهٔ قافلو کښې سفر کوئ! ❁ د نـمونځ د پاره راپاڅول کوئ! ❁ دَرس ورکوئ! د دې نېک کارونو او د نورو دُنيائي ضرورتونو نه پس چې کوم وخت پاتې شي هغه پهٔ تنهايۍ کښې د تېرولو کوشش کوئ!

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... تفسير روح البيان، پاره: 26، سورهٔ حجرات، زيرِ آيت: 12، جلد: 9، صفحه: 88۔

[2]... بهارِ شريعت، جلد: 1، صفحه: 582، حصه: 3۔

پۀ پټه د ګناه کولو عذاب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! داسي خو تنهائي ډير ښۀ څيز دے خو بعضي وخت چي بنده يواځي وي نو ډير قسمه ګناهونو کښې د مشعوله کيدو ويره وي خصوصا نن صبا دور کښې د دې امکان ډير زيات دے، مثلا چي څنګه د تنهايۍ موقع ميلاؤ شي فورا موبائل راوباسي ګنده ويب سائټس کتل شروع کړي،فحش رسالې قصې او تحريرونه لوستل شروع کړي،يا هم پۀ موبائل باندي چرته غيرمحرمه سره خبرې اترې شروع کړي، قصدا فحش خيالات راوستل او د هغې اسباب اختياروول شروع کړي،څۀ خو داسي دې چي پۀ ظاهره ډير نمونځ ګزاره او پرهيزګاره ښکاري خو چي څنګه يواځي شي نو د فرضو نه هم غافله شي، نمونځ قضا کول د هغوي دپاره څۀ مسئله نه وي که نمونځ قضا نۀ هم کړي خو بياهم جمعه خو پريږدي.

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا ډير خطرناک څيزونه دي.مونږ به تنهائي اختياروو دې دپاره چي عبادت کښې مصروفه شو. داسي نۀ چي پۀ ګناهونو کښې مصروفه شو د دې ډير سخت عذاب دے.

حضرت عبدالله بن زيد رضي الله عنه فرمائي :زۀ د سپوږمۍ پۀ وړومبنو ورځو کښې د مقبرې خوا ته تير شوم نو ما يو کس د قبر نه پۀ راوتو وليدو هغۀ زنځير راښکلو،بيا ما وکتل چي يو بل کس هغه زنځير نيولے دے ،دغه دويم کس هغه بار ته وتوونکے کس خپل طرفته راښکاږي او قبر ته يې را واپس کړو بيا ما هغه مړے پۀ وهلو وليدو او مړې وئيلې چي: آيا ما به نمونځ نۀ کولو؟آيا ما به د جنابت نه غسل نۀ کولو؟آيا ما به روژې نۀ

نيولي؟نو هغه وهونکي جواب ورکړو:آو ولې نۀ(تا به واقعي دا کارونه کول)خو چې تا به پۀ تنهايي کښې ګناه کوله نو تۀ به د الله پاک نه نۀ ويريدلې . [1]

کب گناہوں سے کنارا میں کروں گا یاربّ!
نیک کب اے مرے الله ! بنوں گا یا ربّ!
کب گناہوں کے مرض سے میں شفا پاؤں گا
کب میں بیمار مدینے کا بنوں گا یاربّ!(2)

پۀ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: هفته واره رساله مطالعه

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي پۀ ټوله دُنيا کښې د نېکۍ پۀ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د نېک نـمونۀ ګزاره جوړېدو، د ظاهري او باطِني ګناهونو نه د ځان بچ کولو، د اخرت د فِکر موندلو او د الله او د رسول محبت پۀ زړۀ کښې د دېره کولو د پاره تاسو هم د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تړون پيدا کړئ! پۀ 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَاللّٰه الْکَرِيم! د دنيا او اخرت بے شمېره خېرونه به درنصيب شي- پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **هفته واره رساله مطالعه** هم ده-

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اَلعِلمُ بِالتَّعَلُّم عِلم د زده کولو سره راځي- [3] ❁ د دي وخت پۀ بدو کښې يوه بدي دا هم ده چې خلق د عِلمِ دِين نه لرې وځي ❁ د دِيني کتابونو د لوستلو شوق د نشت برابر دے ❁ مخکښينو خلقو به دِيني کتابونه ډېر خوښول ❁ شپه او ورځ به يې کتابونه لوستل ❁ ځکه د هغوئ سره به ديني معلومات هم ډېر وو او ❁ ژوند به يې هم

1... الزواجر، مقدمه، جلد:1، صفحه:30۔
2... وسائلِ بخشش، صفحه:84۔
3... بخاری، صفحه:90، حدیث:67۔

پاک وو-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د باني شيخِ طريقت امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خاصيت دا دے چې هغوئ پخپله هم د عِلم دِين سره ډير شوق لري او عاشقانِ رسول ته هم د دِيني کتابونو د لوستلو د شوق ترغيب ورکوي ❁ هغوئ د هر خالي پۀ ورځ د يوې ديني رسالې د لوستلو فرمائي ❁ مختصره شان رساله وي ❁ پۀ يو څو منټو کښې لوستلے کېږي-

❁ تاسو يې هم لولئ! اِنْ شَآءَاللّٰه الْكَرِيم! ډېره فائده به مو کېږي ❁ ديني معلومات به مو زياتېږي ❁ د عِلمِ دِين د زده کولو ثواب به درته مېلاوېږي ❁ د ديني کتاب د لوستلو سره دماغ هم ښه کېږي ❁ نظر تېزېږي ❁ حکمت نصيب کېږي ❁ سوچ پاک کېږي او ❁ پۀ ژوند کښې ښکلا راځي ❁ د جديد سائنسي تحقيقاتو مطابق د کتاب لوستلو سره د دماغي بيمارو نه حفاظت کېږي-

هره هفته پۀ پابندۍ سره د **هفته وارې رسالې** د لوستلو نِيّت اوکړئ! راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو-

غېر مسلمه مسلمان شو

د هند د يو اِسلامي ورور څۀ داسې بيان دے چې زۀ د کفر پۀ تيارو کښې ورَک ووم، يوه ورځ راله چا د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **احترامِ مسلم** پۀ تحفه کښې راکړه- ما چې ولوستله نو حېران پاتې شوم چې کومو مسلمانانو ته به ما همېشه د نفرت پۀ نظر کتل د هغوئ مذهب **اِسلام** دومره د امن پېغام ورکوي! د رسالې د ليک اثر لکه د غشي زما پۀ زړۀ ولګېدو او پۀ زړۀ کښې مې اسلام کور اوکړو- يوه ورځ ما پۀ بس کښې سفر کولو چې د يو څو بېرو والۀ او عمامو والا اسلامي ورونو قافله هم بس ته را اوختله، ما ته پته ولګېده چې دا مسلمانان دي، زما پۀ زړۀ کښې د اسلام محبت پېدا شوے وو ځکه ورته ما پۀ درنه سترګه

کتل، پۀ دې کښې يو اسلامي ورور د نبيِ مکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شان کښې نعت شريف شروع کړو، زما د هغه انداز ډېر خوښ شو، زما پۀ شوق سره اورېدو ته چې يـې وکتل نو پۀ هغوئي کښې يو ګس زما سره خبرې شروع کړې- هغه ته پته ولګېده چې زۀ مسلمان نۀ يم، هغه پۀ مسکا ډېر پۀ زړۀ پورې انداز کښې ما ته ووئيل، زۀ تاسو ته د اسلام قبلولو خواست کووم، زه د احترامِ مسلم رسالې لوستلو سره د مخکښې نه پۀ زړۀ کښې پۀ اسلام مئين شوے ووم، د هغه د محبت نه ډک انداز مې پۀ زړۀ باندې نور اثر هم اوکړو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما کلمه ووئيله او مسلمان شوم- [1]

ترا شکر مولیٰ دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول
دعا ہے یہ تجھ سے دل ایسا لگا دے | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول [2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

Muslim's Funeral (د مړي د غسل او کفن دفن) ايپلي کښشن

اے د خوبِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د ټيکنالوجيِ دور دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تنظيم دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجيِ پۀ ذريعه هم د عِلمِ دين عام کولو کوشش کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اسلامي د I.T ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ايپلي کښشنز جاري کړے شوي دي، پۀ کومو کښې چې يو موبائل ايپلي کښشن دے: Muslim's Funeral (کَفَن دَفَن)- پۀ دې موبائل ايپلي کښشن کښې ❁ د مَړي د غُسل او کفن دفن وغېره پۀ باره کښې ډېر اهم معلومات ورکړے شوي دي ❁ يوه خاص خبره دا ده چې مَړي له به غُسل څنګه ورکوې؟ ❁ کَفَن به ورته څنګه اچوې؟ د دې د عملي طريقې د پاره Animated Videos [متحرک وېډيوګاني] هم شامِلې دي- ❁ د دې يو ډېر

---

[1] ... غافل درزی، صفحہ:25۔
[2] ... وسائلِ بخشش، صفحہ: 648647۔

اهم خاصيت دا هم دے چې تاسو ته به پۀ دې کښې د خپل ملک او د ښار د ذمه دارانو نمبرې هم مېلاؤ شي پۀ کومو چې د رابطې کولو سره تاسو د کفن دفن في سبيل الله خدمتونه حاصلولے شئ۔

تاسو هم پۀ خپل موبائل کښې دا ايپلي کېشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ **مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي خالي پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چينل د ماسخوتن د نمونځ نه پس تقريباً 8 بجې اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کېږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې **ديني رسالې** لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **روحاني او طبي عِلاج (قسط: 2)** اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل مېډيا مثلاً واټس اېپ وغېره استعمالوي هغوئ دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شېئر (**Share**) کړي! ❁ مکتبة المدينه د اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ظاهر او د باطِن اِصلاح کوونکے زبردست کتاب؛ **احياءالعلوم(اردو ترجمه)**۔ پۀ 5 جلدونو کښې چاپ کړے دے، د دې کتاب نه تاسو ❁ د اِيمان، عقيدو او بنيادي اِسلامي تعليماتو وضاحت ❁ د

قرآنِ پاک تِلاوت، ذِکرِ اِلٰہی، د دعاګانو او عبادتونو آداب ❁ د اِخلاص، تقویٰ او د نیت د اِصلاح اهمیت ❁ د زړۀ پاک والے او د باطِني بیمارو نه د بچ کېدو طریقې ❁ د حسد، تکبر، ریا او د ځان خوښۍ پۀ شان د بدو اخلاقو مذمت ❁ صبر، شُکر، توبه، توکل او د الله پاک د محبت فضیلتونه او ډېر څۀ زده کولے شئ- دا کتاب د مکتبة المدینه د یوې څانګې نه د 5 جلدونو پوره سیټ پۀ 9 زره 770 روپۍ پۀ بېعه حاصل کړئ، پخپله یې هم ولولئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

رښتیا وئیل د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه فرامین: (1): رښتیا وئیل نېکي ده او نېکي انسان جَنَّت ته بوځي- [2] (2): د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوکړے شوه: جنتي عمل کوم یو دے؟ وه یې فرمائي: رښتیا وئیل- [3]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! رښتیا وئیل د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❁ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

[1] ... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔
[2] ... مسلم، کتاب الادب، باب قبح الکذب... الخ، صفحه: 1405، حدیث: 2607۔
[3] ... مسند امام احمد، جلد: 2، صفحه:589، حدیث:6652۔

به همېشه رښتيا وئيل ❁ په دې وجه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خلقو د **صادق او امين** په لقب سره پېژندلو ❁ حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْهُ لا اِيمان نه وو راوړے چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ليدلو يې ووئيل: وَجْهُهٗ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ دا مبارک مخ د دروغو وئيلو والا مخ نه شي کېدے، بيا عبد الله بن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اِسلام قبول کړو۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دروغ وئيل ګناه ده، مونږ له د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّت باندې په عمل کولو سره همېشه رښتيا وئيل پکار دي۔ الله پاک دې مونږ ټولو ته همېشه د رښتياؤ وئيلو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شېخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او وه يې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پروَردگار | سنّتوں کی تربیت کے قافلے میں بار بار
جو گناہوں کے مرَض سے تنگ ہے بیزار ہے | قافلہ عطارؔ اُس کے واسطے تیّار ہے

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را عطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد